احسان الله مایار ۲۰۲۰/۰۸/۰۵

# صفحه ای از تاریخ

### قسمت هفتم

این قسمت متعلق به خانوادهٔ بنده بوده که مستقیماً در سهیم بودن مبارزات داغ جهادی صحبت در میان است. در یکی روزها در آلمان اوقات تلخ بودم و علت آنرا نمیدانستم که چرا؟ در گوشهٔ خود را کنار کشیدم و یکی از کتاب های مورد علاقه ام را مطالعه می نمودم. صدای زنگ تلفون بالا شد و با بی علاقگی گوشی را گرفتم و زمانیکه صدای برادرم عنایت را شنیدم خوش شدم. بعد احوالپرسی برایم گفت که برادر ما عزیز مریض است و در شفاخانه است و وضعش خوب نیست. عزیز را نهایت دوست داشتم او علاوه به برادری چیزکی داشت که در دلم چنگ میزد و این خبر سخت تکانم داد و در دل تنگی ام افزود.

فردای آن روز نحس عنایت احوال عزیز جوانمرگ به اطلاع رسانید که جهان را بالایم تاریک گردانید.

آن عزیز، که در دِل و ذهنم جا داشت، در جهان دیگری رفت و از همه درد و رنج بیچارگی و بی وطنی خود را راحت ساخت لیک همسر و فاطمه و بلال کوچک را در عالم نامعلوم پُر از نکبت و بدبختی های جنگ تنها گذاشت.



این داستان بدبختی تنها مربوط به خانوادهٔ من نیست این داستان از حنجره وصدای ناله صدها هزار افغان بالا است و دادرسی نیست که زخم های شان را التیام بخشد.

عزیز نازنینم با تبسم ملیحش

موضوع بحث ما صفحه ای از تاریخ است که هر فرد وطن پرست از ملت افغان در طول جنگها و خونریزی بنحوی در جدال با بیرونرفت از آن وضع در آزادی وطن سهم داشته اند که خوشبختانه اعضای خانوادهٔ عزیزم نیز بنحوی در آن شریک بودند.

۱-۸ -۱۹۸۵

دیشب به کراچی مواصلت کردم و امروز ساعت ۷ صبح با پرواز نمبر ۳۰۰ پی آی ای از کراچی جانب اسلام آباد پرواز کرده و بعد از ۱،۳۰ دقیقه بد انجا مواصلت کردم. مختصر به اپارتمان اقامتگاه پدر و اعضای خانواده



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

ام رفتم. اولادهای برادرم عزیز را در آغوش کشیدم و بعداً در مسجد که فاتحه آن مرحومی را میگرفتند، رفتم.



تعداد بیشماری از غمشریکان آمده بودند و پدرم که پسر جوانش را به خاك سپرده بود متین و با تمکین سر تسلیم در اراده حق فرود آورده از غمشریکی مردم و دوستان اظهار سپاس میکرد.

۴-۸- ۱۹۸۵

به زیارت مقبرهٔ برادرم به پشاور رفتم. وی در کبابیان، چیزکی پائینتر از نهر در یك بلندی ای دفن شده است، ساعتی ایکه به مقبره اش رسیدم، مرد بیگانه ای با محاسن ماش و برنج در پهلوی قبرش نشسته بود و گریه می کرد. وی یک مشت از شکسته های رمر در کنج پتویش داشت و مصروف نصب آن بالای بیت نشانی شده بالای خاک وی که چنین است نصب کند:

ای خاک عزیز ما را عزیز نگهدار
این نورچشم ماست که در بر گرفته ئی

عزیز در سن ۴۳ سالگی از جهان رفت وامروز درود به روان پاک وی فرستاده و در دنیای که ایستاد شدنی نیست قدمی فراتر می گذارم.

۶-۸- ۱۹۸۵

زمانیکه برادرم عزیزالله زنده بود با حزب اسلامی مولوی خالص تماس داشته و مذاکرات بین شان به جایی رسیده بود که مولوی خالص موافقه کرده بود یك مقدار سلاح و مهمات به وی بدهد تا در وردگ چند جبههٔ جهادی را افتتاح کند. اما سر نوشت بازی دیگری را در پیش داشت و اورا از ما گرفت.

در روز فاتحهٔ مرحومی مولوی خالص به پدرم از جریان رابطه ای برادرم عزیزالله با حزب اسلامی یاد کرده و گفته که باید پی کار آغاز شدهٔ عزیز جوانمرگ را گرفت و روح او را شاد کرد. پدرم به امین الله سعادت، خواهر زاده و دگروال عنایت الله مایار پسرش وظیفه داد که کار آغاز شده عزیز را تعقیب کنند.

بعد از مقدمه بالا جهت معرفی قضیه بر می گردم به صفحه یاد داشتم.

ساعت ۹،۳۰ امین الله سعادت ، بدیدنم آمد و راجع به جریان ترتیب جبهات از طریق حزب مولوی خالص در وردگ برایم معلومات داد، لست قوماندانها و مجاهدین را که به مولوی خالص معرفی می شوند از نظرم گذشتاند. مردمان خوب تعیین شده اند. قرار شد تا روز پنج شنبه نزد مولوی خالص رفته و لست را به وی تسلیم کنیم.

۸-۸- ۱۹۸۵

با امین الله سعادت و برادرم عنایت الله مایار ساعت ۱٤،۰۰ در ارباب رود نزد مولوی خالص رفتیم. مولوی خالص مانند همیشه پیشآمد نیك نموده و در بارهٔ روابط خود با برادر مرحوم عزیزالله با محبت تذکر داد. از پدرم با احترام صحبت کرد و دوستی خود را با وی شرح داد و در ضمن از کسانیکه به نیکی یاد کرد یکی دکتر صمدحامد و دومی عبدالستار سیرت بود. بعد از آن در بارهٔ تشکیل جبهات صحبت کردیم و لست مرتبه را برایش تسلیم دادیم و قرار شد تا به زودی سلاح و مهمات را تسلیم دهد.

مولوی خالص به من پیشنهاد کرد تا به حزب اسلامی در ساحۀ بین المللی و علی الخصوص در آلمان غرب همکاری نمایم. من از اعتماد وی تشکر کرده و آمادگی خود را، به هر خدمتیکه در راه آزادی و طنم ختم شود، اظهار داشتم. وی برای همکارش در آلمان بامتن ذیل مکتوبی نوشته وآنرا بمن تسلیم داد:



کاپی مکتوب مولوی محمد یونس خالص

" گران و رور بریالی نصرالله خان السلام علیك-

محترم انجنیر صاحب احسان الله خان د محترم والي صاحب محمد اسماعیل خان چه زما سره د لویشت کلونو را پدي

خو ا دوستی لری، فعلاً په جرمنی کی کار کوی. دوی به تاسو سره لمری تماس و تعارف ونیسی. دا سری د یو نیک شریفی کورنی شخص او تر دیره حده د اطمینان ور دی دی کوم خاص امتیاز نه غواری صرف موژ سره د دوستی او اعتماد له لاری د همکاری لپاره تیار دی. ددی باندی د ظاهر شاهی تاپه لگیدلی ده خو تاسو ئی پدی فکر مه کوی (خوانا نیست مولف) ځکه دوی مستقل او آزاد فکر لری او د افغانستان د آزادی لپاره هری قربانی ته تیار دی د دوی څخه به زیات نه زیات همکاری ترلاسه کؤی او ور سره مشوره کوی- په احترام

امضاء محمد یونس خالص ١٣٦٤/٥/٢٥

١٤-٨- ١٩٨٥

امین الله سعادت و عنایت الله برادرم نزدم آمدند و یکی از قوماندان را که در آینده در جبهه البلال جهاد خواهد کرد، برایم معرفی کردند. وی محمد نعیم نام دارد و پسر غلام نبی خان ، یکی از خوانین معزز جغتو می باشد. آدمیست خوش سیما با پیشآمد نیك. امید است که در راه آزادی وطن خدمت کرده بتواند.

٣٠-٨- ١٩٨٥

بساعت ٢،٥٠ صبح از اسلام آباد حرکت و شام روز به فرانکفورت رسیدم:

قبل از پرواز پدرم حین خدا حافظی پیامی را که بمناسبت احداث جبهۀ "البلال" نوشته بود برایم داد که متن آنرا در اینجا از نظر خوانندگان می گذرانم:

بسم الله الرحمن الرحیم

زما د مینی ډك سلامونه دي ورونو، زامنو، قوماندانانو او سر په لاس کی مجاهدینو ته ورسیږی!

دیر خوشحاله او شکر گذاره یم چی تاسو هم د افغانستان د نورو مجاهدینو په څیر خاص د پاك الله (ج) د رضا او د گران او اسلامی وطن د خلاصون په خاطر د کفر او الحاد په مقابل په زړوتیا سره جنگیږی او دا د افغانانو ویارلی او تاریخی جهاد به د اسلام په تاریخ کی په زرینو کرشو ثبت او اسلامی نړی به ستاسو په میرانه او کارنامو فخر او ویاړ کوی .

گرانو! زه شرمیږم په دی چی زوړتوب او زهیری زما څخه دا قدرت او توان اخیستی چی له تاسو سره د جهاد په تاوده سنگر کی یو ځای شم، بیا هم د تاسو او نورو قهرمانانو سره چی دی په افغانستان په هره نقطه کی وی روحاً یو ځای یم او یومه.

تاسو خبر یاست چی زما یو ځوان زوی د خپل فامیل سره مهاجر شوی و، لوی الله (ج) هغه د شهیدانو په جمله کي حساب او خپل امانت ئی له مانه واخیست. هغه ځوانیمرگ چی د جهاد سره ئی دیره علاقه درلوده، نوم ئی

حاجی عزیزالله مایار و، نوموړی تل رنځور و چی څه دول به په جهاد کی برخه واخلی، هغه و چی د خپلو مجاهدو ملګرو په مشوره خپله او د مجاهد ملګرو هیله او آرزوئی د جناب مولانا صاحب محمد یونس خالص چی د نورو محترمو تنظیمونو د فی سبیل الله جهاد په لاره کی پوره هلی ځلی کوي، وراندی کره. څرنګه چه د دوی هیله معقوله او د نورو مجاهدینو په څیره وه قبوله او د کومك او مرستی وعده ئی ور سره وکوه.
کوم وخت چه اجل پوره شي د قرآن کریم د امر سره سم یوه شیبه وراندی او وروسته نه کیږی. د رب الجلیل امر صادر شو او په شلو دقیقو کی ئی عزیزالله ځان حق ته تسلیم کړ. څرنګه چی هغه خپله پاك آرزو ګورته ورسره یوره، نو ملګروئی له مانه غوښتنه وکړه چی د هغه له مرګ نه وروسته خپل اقدام سرته ورسوي. جناب مولوي صاحب خالص ته مو د هغی وعدی په اساس چه پخوائی کړی وه مراجعه وکړه هغو و فرمایل چی :" په خپله وعده وفادار او ملګرو ته ئی د سلاح او مهماتو مرسته ورکوم". ددی لپاره چی د هغه ځوانیمرګ روح شاده او آروزئی سرته رسیدلی وی نو دده واره زوی "بلال" په نامه مو د"البلال" د جبهی بنست کښیشود، دا جبهه یوه کوچنی ولی د پاکی عقیدی خاونده او په صداقت سره ئی جهاد ته ملاتړلی ده. ددی جبهی هدف او مرام دیر روشانه دی، هغه وائی چه د مولوی خالص صاحب د نیکو افکارو په پیروی سره د جهاد ته د خدمت کول دی، او تعهد کړی چی پیروی به د قرآن پاك له احکامو څخه کوي.
او دائی خط مشی ده چی:
"احترام در لودل د ټولو اسلامی تنظیمونو مشرانو ته چی د هر یوه هدف اعلای کلمة الله او د افغانستان نجات د دشمن له خونړیو منګلو څخه دی، او ځان ساتل له منافقت، خود خواهی او خود پسندی نه او همدارنګه ځان ساتل د نفاق او درز اچولو څخه، او صمیمانه همکاری د هغو مجاهدینو سره کوم په حقه لاړ کی جنګیږي. ددی لپاره چی داده شی لاس په قرآنکریم چی زموږ لاړشود او مددګار دی ایږدو چی خپله په لاس کی سلاح به صرف د دین، وطن او ناموس د دشمن په مقابل کی استعمالوو، تعهد کوی چی د دشمن په لمسون به چی نفاق او شړ اچولو ته لمن وهی د خپل مسلمان وررور سره به مجادله او مبارزه نه کوو.
ګرانو! د خپل نامراد زوی پاکو آرزوګانو دی هڅه کوم چی که د لوی الله (ج) رضا وه د هغه آرزوګانی سر ته ورسوم، پر ځان ئی لازم بولم چی تول حقایق روشانه کوم تر څو هیڅ شك او تردید مو په منځ کی نه وی .
۱- دالبلال په دی جبهه کی چی د مولوی صاحب خالص په اسلامی حزب پوری اړه لري، زه خپله د جبهی د آمر، امین الله سعادت د معاون او زما زوی عنایت الله مایار د جبهی د قوماندان په ټوګه چی ځانګری تشکیل لری کار کوو. دوی به خپلی ورسپارل شوی وظیفی به شریکه ترتیب و تنظیموی او بیا به هغه د امضاء اخستلو په خاطر زما تر نظر تیروی، او همیش به د جناب مولوی صاحب خالص له مشورو او نیکو هدایاتو څخه مستفید اوسو، تر څو چی کارونه مو په ښه او منظمه ټوګه پر مخ لاړ شی .



۲- کله چی د البلال جبهه خپل امتحان ورکړي یعنی په هغه تعهد چی کړی ئی دی وفا وکړی او په جهاد کی خپله قهرمانی ثابته کړی هغه وخت به ددی جبهی جمعیت زیات شی او هغه د جهادیانو چی تر اوسه په نورو تنظیمو کی دګروال عنایت الله مایار و امین الله سعادت ندی تنظیم شوی او بی طرفه پاتی شوی دی په ځان راتول کړی.

۳- له جهادو خګنه فعلاً البلال جبهه چی د خالص صاحب د اسلامی حزب څخه حسابږای او یوه نوی په پشو درولی شوی جبهه ده د لوی الله په مرسته به وکولای شی چی د مجاهدینو تعداد زیات کړی، د مولوی صاحب خالص هیله دا ده چی باید وحدت او اتفاق خپل شعار او د تګولو تنظیمو سره چی د یوی کورنی او قوم خګنه دی همکار اوسی.

٤- د لوی خدای (ج) سره می عهد کړی بیله دی چی د خپل مرحوم زوی پاکی هیلی تر سره او د حق په لاره کی خدمت وکړم او دیوه مجاهد په نامه خاورو ته وسپارل شم بله آرزو او هدف نلرم. لکه څرنګه چی نن تول یوه پاك هدف ته د رسیدو په منظور په خدمت بوخت دی . دشمنان د نفاق او تفرقی دانی شیندی، د اسلامی تنظیمونو ظاهری جدائی باید داسی فکر ونشی چی ګواکی دوی ځان غواړی. داسی فکر کول یوه لویه اشتباه ده، ځکه د تولو هدف یو او مشترك دی چه هغه د وحشی او خونخوار دشمن او د هغه د خنځیر په غاړه غلامانو او پیروانو شرمنده او ذلیله کول دی. په دی څوك سترګي نشی پتولی چی همدا افغانی قهرمانان خصوصاً محترم روحانیون او مشران وو چی د دنیا یو لوی نظامی قدرت ئی په کونږو تکولو خلکو ته ئی شرمنده او رسوا کړ.

٥- تول دوستان په هر ځای کی چی دی دا فکر باید ونکړی چه ما خپله توجه د خپل قوم خواته اړولی ده، ما صرف څو کسه مشران د جناب مولوی صاحب خالص په توجه مسلح کړل هیله ده چی دا کار د چا د ګیلی او خواشینی سبب نشی.

٦- د محترمو رهبرانو او مشرانوڅخه چی نن د یووالی او وحدت له لاری د مختلفو جبهاتو څخه پر دشمن غابنو ماتوونکی ګذارونه کوی او دشمن دی د پوره ماتی سره مخامخ کړی دی هیله کوم چی زما نظریات صادقانه وبولی او وعده ورکوم چی د البلال جبهه به د تولو مجاهدینو سره همسنګره وی او انشاء الله چی په عمل کی به ثابته شی.

۷- قوماندانانو او مجاهدینو شکر وباسی چی شك او تردید له منځه لاړ. د شوروی د خارجه چارو وزارت نماینده په داډه وویل چی تر پنځو کالو پوری به سره پوخونه په افغانستان کی پاتی شی، یعنی د هغوی د حکومت په غلط فکر چی افغانستان په دری (۳) میاشتی وروسته د ځان کړی مګر غافل له دی و چی په دیره شرمندګی سره به رسوا او ناکامیږی . اوس هم فکر کوی چی په پنځو راتلونکو کالو کی به د افغانستان باشهامته او مسلمان ملت خدا ناخواسته کمونیست او د دوی د جمهوریتونو څخه به حساب شی.

خبردار اوسی! چی دیر سخت جنګ راتلونکی دی، نه د رئیس جمهورانو لیدنی او کتني او نه د دسمبر مذاکری د افغانستان د آزادی لپاره مفید واقع کیږی بلکه وضع نوره هم کړکیچنه کوی. نو لازمه ده چی د یووالی او وحدت له لاری چی د خیر، برکت او خلاصون لاره ده د میرانی او همت ملا تینګه وتړو او په دیر اخلاص سره د دین او وطن د دشمنانو سره مبارزه وکړو...

حضرت جامی (علیه الرحمه) وائی:

جمال کعبه چنان میدواندم هر دم

که خارهای مغیلان حریری دانم

قوماندانانو او مجاهدینو !

ستاسو وطن هم چی کعبه ده د هغی د آزادی او ژغورنه په لاره کی په زر ګونو موانع او د دشمن د مغیلان اغزی ستاسو پشو او جسم ته صدمه ور سوی هیڅ پروا پری مه کوی. والسلام

خـدایا چنـان کـن کـه پایان کار

تو خوشنود باشی و ما رستگار

ومن الله التوفیق - محمد اسمعیل مایار

ادامه دارد